

# داولیائے کرامو سره د

# محبت فضائل

19-OCTOBER-2023

هفته وراه د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

په 19 اکتوبر کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د اولیائے کرامو سره د محبت فضائل

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د غوثِ پاک عاشقانو ته دې مبارک شي
- ... د اولیائے کرامو محبت په زړونو کښې اچولے شي
- ... د اولیائے کرامو سره د محبت په فضیلت باندې احادیث
- ... د جنّت نوراني ستن
- ... د ایمان د پاره د ټولو نه مضبوطه رسۍ

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضیلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** تاسو خپل مجلسونه په ما باندې په درودِ پاک لوستلو سره ښائسته کړئ، ستاسو په ما باندې درود لوستل به د قیامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي.[1]

تیری اِک اِک ادا پر اے پیارے
سَو درودیں فدا، ہزار سلام

رَبِّ سَلِّم کے کہنے والے پر
جان کے ساتھ ہوں نثار سلام

وہ سلامت رہا قیامت میں
پڑھ لئے جس نے دِل سے چار سلام[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو باندې دے.[3] **خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** یاد ساتئ! ښه ښه نیتونه چې څومره ډیر وي، ثواب به هم زیات میلاویږي، څکه د بیان اوریدو نه مخکښې څه ښه ښه نِیّتونه اوکړئ: مَثَلاً

[1]... جامع صغیر، صفحه:280، حدیث:4580.

[2]... ذوقِ نعت، صفحه:171170.

[3]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 .

❁ د عِلمِ دِین زده کولو نیت اوکړئ ❁ ښه په توجه سره د بیان اوریدلو نیت اوکړئ
❁ په بیان کښې به د قرآنِ پاک آیتونه او حدیثونه لوستلے شي، د هغې د اوریدو نیت اوکړئ ❁ اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د نیکانو خلقو ذِکر به کیږي او د نیکانو خلقو د ذِکر په وخت رحمت وَریږي، د دې رحمت حاصلولو نیت اوکړئ. نور ښه ښه نیتونه اوکړئ.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د غوثِ پاک عاشق

د شیخِ طریقت، امیر اهلسنت حضرت علّامه مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د آبائي کلي (ګجرات، هندوستان) واقعه ده. چرته چې د غوثِ پاک یو عاشق اوسیدلو، کوم چې به یولسم شریف ډیر په اهتمام سره لمَانځلو، یوه خاص خبره په هغه کښې دا هم وه چې هغه به د سیدانو ډیر زیات عزت کولو، په وړو سیدانو باندې ئې د شفقت دا حال وو چې هغوئي به ئې په غیږه کښې کرځول او هغوئي له به شیریني (مثلاً د خوراک خواږه خیزونه) وغیره اخستل او ورته به ئې وړاندې کول. یوه ورځ هغه عاشق وفات شو. په هغه عاشق باندې څادر اچولے شوے وو، غم زپلي راجمع شوي وو چې ناڅاپه څادر لرې شو او هغه د غوثِ پاک عاشق راپاڅیدو، خلق اوویریدل او د منډې د پاره تیار شول. هغه ورته غږ اوکړو: مه ویریږئ، لږ واورئ! خلق چې کله رانزدې شول نو اوئې وئیل: خبره په اصل کښې دا ده چې اوس اوس زما د یولسم والا آقا، د پیرانو پیر، پیرِ دستګیر، روښانه ضمیر، غوثِ اعظم شیخ عبد القادر جیلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه تشریف راوړے وو، هغه [زه د راپاڅولو د پاره] اوخوزولم او اوئې فرمائیل: زما د مُرید کیدو سره بغیر د

توبې نه مړ شوې؟ پاخه او توبه کړه.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! په ما کښې رُوح بیرته راغلو د پاره د دې چې زه توبه کړم. د دومره وئیلو نه پس عاشق د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کړه او د کلمهٔ پاک وِرد ئې شروع کړو، بیا ناڅاپه د هغه سر یو طرف ته زوړند شو او وفات شو.[1]

رضاؔ کا خاتِمہ بِالخیر ہو گا | تِری رحمت اگر شامل ہے یا غوث[2]

**وضاحت:** که ستاسو شفقت او عنایت شامل شو نو اے زما پیره! اے خوږه غوثِ پاکه! ستاسو د ربښتیني عاشق احمد رضا (رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ) خاتمه به ښه او بهترینه وي.

## د غوثِ پاک عاشقانو ته دې مبارک شي

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! زمونږه د غوثِ پاک شیخ عبد القادِر جیلاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ څومره ځانګړے شان دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! کوم چې د غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ عاشقان دي، د هغوئي مُریدان دي، د هغوئي د پاره زیرے دے چې غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ اوفرمائیل: زما مُرید که هر څومره ګنهګار ولې نه وي، هغه به تر هغه وخته پورې نه مړ کیږي، تر څو چې توبه نه کړي.[3] او څوک چې د توبې کولو سره د دنیا نه لاړ شي اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د دوزخ نه به بچ شي او جنت ته په رسیدو کښې به کامیاب شي.

میں جہنّم میں نہ اَب جاؤں گا اِنْ شَآءَ اللّٰهُ | رَہنُما تم کو جو میں نے ہے بنایا یا غوث[4]

---

[1]… جنات کا بادشاہ، صفحه: 43 بتغیر قلیل.

[2]… حدائقِ بخشش، صفحه: 263.

[3]… بهجة الاسرار، ذکر فضل اصحابه و بشراهم، صفحه: 191.

[4]… وسائلِ بخشش، صفحه: 541.

## د شیطاني وسوسو مخ نیوے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل مُرید ژوندي کول او د توبے تلقین کول زمونږ د غوثِ پاک زبردست کرامت دے. بعضې خلق د اولیائے کرامو د داسې قِسمه کرامتونو اوریدو سره د مختلفو شیطاني وسوسو ښکار کیږي، مثلاً دا څنګه کیدے شي؟ ژوندي کول او مړه کول خو د الله پاک په اختیار کښې دي، یو انسان څنګه مړے ژوندے کولے شي؟ څوک چې یو ځل مړ شو، د هغه بیا بیرته دنیا ته راتلل، ژوندي کیدل بالکل ممکن نه دي؟ وغیره وغیره!

د دې وسوسو هم یو جواب دے، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا ﴿۲۰﴾ (پاره:15، بنی اسرائیل:20) | **مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان:** او ستاسو د رَبّ په عطا باندې هیڅ منع نشته. |

معلومه شوه چې د الله پاک په عطا کښې هیڅ منع نشته، الله پاک چې چا له څومره اوغوارِي ورته عطا کړي، څه چې اوغواړي ورته عطا کړي. که الله پاک خپل یو بنده ته د مړي ژوندي کولو طاقت عطا کوي نو د چا څه مجال چې په الله پاک باندې اعتراض اوکړي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه هم دغه عقیده ده چې د الله پاک د عطا نه بغیر، د خپل ذات په طاقت باندې مړے ژوندے کول خو غټه خبره ده، څوک یو خَسَنے هم نشي خوزولے او که الله پاک طاقت ورکړي نو انسان مړي هم را ژوندي کولے شي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه له الله پاک دا طاقت ورکړے وو چې هغوئي به مړي ژوندي کول. اوس څوک شته کوم چې د الله پاک په عطا باندې اعتراض اوکړي؟

## آیا د مړه کیدو نه پس دنیا ته بیرته راتلل ممکن دي

او تر څو پورې چې خبره د مرګ نه پس د بیا ژوندي کیدو ده نو دا بالکل ممکن ده، په قرآنِ کریم کښې ډیرې داسې واقعې موجودې دي په کومو کښې چې د مړو د ژوندي کیدو ذِکر دے، په سورهٔ بقره کښې واقعه ده چې د بني اسرائیلو د یو نیک بنده د غوا ذبح کولو سره د هغې د غوښې ټوټه د مړي سره اولګولے شوه نو هغه ژوندے شو

❁ هم په سُورهٔ بقره کښې د بني اسرائیلو د 70 زرو مړو ژوندي کیدو واقعه هم موجود ده

❁ حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام 4 مرغۍ ذبح کړې، د هغې د غوښې نه ئې قیمه جوړه کړه، بیا ئې د هغې غوښه لرې په مختلفو غرونو باندې کینښودله، بیا ئې هغې ته غږ اوکړو نو هغه غوښه په هوا راغله، د قیمه شوې غوښې نه بوټۍ بیلې بیلې شوې او د خپلو سرونو سره اولګیدلې، 4 واړه مرغۍ بیا ژوندۍ شوې، دا واقعه هم د سورهٔ بقره په دریمه سیپاره کښې موجود ده ❁ او د اَصحابِ کهف واقعه خو ډیره مشهوره ده، دا د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام اُمتیان وو، د یو ظالم بادشاه د شر نه د بچ کیدو د پاره د خپل ایمان بچ کولو په خاطر یو غار ته د تللو سره اوده شول، 300 کاله اوده وو، 300 کاله پس الله پاک هغوئي بیا را ژوندي کړل.

غرض د مړو ژوندي کیدل دا څه د حقیقت خلاف خبره نه ده، بالکل ممکن ده، که الله پاک اوغواړي نو داسې کیدے شي بلکه کیږي هم.

قلبِ مردہ کو بھی ٹھوکر سے جِلادو مُرشِد
بِالیقیں تم نے تو مُردوں کو جِلایا یاغوث!

آفتوں میں ہوں گرفتار، مدد کو آؤ
آہ! دُنیا کے غموں نے ہے ستایا یاغوث!

میں جہنّم میں نہ اب جاؤں گا اِنْ شَآءَ الله!
رہنما تم کو جو میں نے ہے بنایا یاغوث! [1]

---

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 540 541 ملتقطًا.

# د اولیائے کرامو شانونه

اے عاشقانِ رَسُول! اولیائے کرام ډیرې د اوچتې مرتبے خلق وي، اللّٰه پاک دوئي ته ډیر لوئے لوئے شانونه عطا کوي. په سیپاره 11، سورۂ یُونُس، آیت: 62 – 63 او 64 کښې اللّٰه پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَلَآ اِنَّ اَوْلِیَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَ لَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ﴿۶۲﴾ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ كَانُوْا یَتَّقُوْنَ ﴿۶۳﴾ لَهُمُ الْبُشْرٰى فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَ فِی الْاٰخِرَةِ ؕ لَا تَبْدِیْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ﴿۶۴﴾ (پاره: 11، یونس: 6462) | مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: بے شکه د اللّٰه پاک په اولیاؤ باندې به نه څه ویره وي او نه به دوئي غمژن وي. هغوئي ایمان راوړو او ویریدل. د هغوئي د پاره د دنیا په ژوند کښې او په آخرت کښې زیرے دے د اللّٰه پاک خبرې نه بدلیږي هم دغه لویه کامیابي ده. |

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آیت په تفسیر کښې فرمائي: اے خلقو! د زړه په غوږونو واورئ! خبر شئ! په دې کښې شک نشته چې د اللّٰه پاک د دوستانو، د هغه د قرب سعادت موندونکو شان دا دے چې ❁ په دُنیا کښې په دوئي باندې د چا مخلوق ویره، رُعب او دبدبه نه پریوځي ځکه چې د دوئي زړونه د اللّٰه پاک د ویرې نه ډک وي ❁ د دوئي سره به په دُنیا او آخرت کښې هیڅ غم هم نه وي، اللّٰه پاک دوئي د دې دواړو تکلیفونو نه محفوظ ساتي ❁ دا هغه خلق دي کوم چې رښتیني، پاخه مؤمِنان دي، دوئي هر وخت متقي او پرهیزګاره اوسي ❁ نۀ څه فرض، واجب یا سُنَّت پریږدي، نۀ څه ناجائزه کار کوي

❁ د دوئي د پاره په دُنيا او آخرت کښې زيري دي ❁ د دوئي د وِلايت ګواهي د خلقو په ژبه باندې موجوده ده ❁ د دوئي په لور زړونه تيتيږي ❁ د وفات کيدو په وخت فرښتې دوئي له د جنت زيري ورکوي ❁ د قيامت په ورځ به دوئي ته جنت ته د داخليدو په وخت زيري ورکولے شي ❁ دا د الله پاک وعدې دي کومې چې چرې هم نه بدليږي، اے خلقو! دا لويه کاميابي ده، د دې په لور رغبت کوئ...!![1]

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د اولیائے کرامو څومره ځانګړې شانونه دي، الله پاک دوئي ته په دُنيا کښې هم اوچتې مرتبے عطا کوي او په آخرت کښې به هم دوئي ته اوچتې مرتبے عطا کولے شي، اَلۡحَمۡدُ لِله! اولیائے کرام په دنيا کښې هم سرداران دي او اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیم!په آخرت کښې به هم سرداران وي.

## د اولیائے کرامو محبت په زړونو کښې اچولے کيږي

اے عاشقانِ رَسُول! په قرآنِ کريم کښې په نورو ځايونو کښې هم د اولیائے کرامو شانونه بيان شوي دي، په سيپاره 16، سورۂ مريم کښې ارشاد کيږي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَیَجۡعَلُ لَہُمُ الرَّحۡمٰنُ وُدًّا ﴿۹۶﴾ (پاره:16، مريم:96) | مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: بے شکه هغه کومو چې ايمان راوړو او نيک اعمال ئې اوکړل ډير زر به رحمان د هغوئي د پاره محبت پيدا کړي. |

سُبۡحٰنَ الله! معلومه شوه چې هغه خلق کومو چې ايمان راوړو، د ايمان اوچت مقام ته اورسيدل، ټول عمر د هغوئي ايمان، د هغوئي عقيده د هر عيب نه، د هر کمي نه پاکه

[1]...تفسيرِ نعيمی، پاره:11، يونس، زيرِ آيات: 62تا64 بتغير قليل.

پاتې شوه، هغوئي د ايمان په لحاظ سره هم کامِل شول، د عقيدې په لحاظ سره هم کامِل شول، بيا د دې سره سره هغوئي نيک اعمال هم ډېر اوکړل، هغوئي خپل ټول ژوند د الله پاک په کامِله بندګئ کښې تير کړو، د دوئي دا شان دے چې الله پاک پخپله هم د دوئي سره محبت فرمائي او ورسره ورسره د خلقو په زړونو کښې هم د دوئي محبت کيښودے شي.

## په زړونو کښې د اولياؤ محبت څنګه اچولے شي

د **حديثِ پاک** مشهور کتاب **مسلم شريف** کښې حديثِ پاک دے، زمونږه آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چې کله الله پاک د يو بنده سره محبت فرمائي نو حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام ته حکم کوي: اِنِّي اُحِبُّ فَلَانًا فَاَحِبَّهُ يعنې (اے جبريله!) زه د فلانکي بنده سره محبت کووم، تهٔ هم د هغه سره محبت کوه!

بس حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د هغه بنده سره محبت شروع کړي، بيا د دې محبتونو سلسله په دې ځائے نه حصاريږي بلکه ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَآءِ بيا په آسمانونو کښې اعلان کولے شي: اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَاَحِبُّوْهُ يعنې اے آسمان والؤ! بے شکه الله پاک د فلانکي سره محبت فرمائي، تاسو هم د هغه سره محبت اوکړئ!

بس د آسمانونو فرښتې د هغه سره محبت شروع کړي. بيا لکه چې په ټولو آسمانونو کښې د **ولِـيُّ الله** محبت عام شي، بيا د دې نه پس څه کيږي؟ په **حديثِ پاک** کښې دي: ثُمَّ يُوْضَعُ الْقَبُوْلُ فِي الْاَرْضِ بيا په زمکه کښې د دې بنده مقبوليت کيښودے شي (يعنې د خلقو زړونه د هغه په لور مائله کړے شي).[1]

---

[1]... مسلم، کتاب البر و الصلة و الآداب، باب اذا احب الله عبدا ...الخ، صفحه:1016، حديث:2637.

سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ اولیاء! دا دے د اولیائے کرامو څانګړے شان...!! دا د الله پاک هغه خوش قِسمته بندګان دي د کومو سره چې الله پاک هم محبت فرمائي، حضرت جبریل عَلَیْهِ السَّلَام هم محبت کوي او ټولې فرښتې د دوئي سره محبت کوي، بیا د دوئي محبت د خلقو په زړونو کښې اچولے کیږي.

| | |
|---|---|
| مجھے اولیا کی محبّت عطا کر | تُو دِیوانہ کر غوث کا یا اِلٰہی! |
| مری لاش سے سانپ بچھو نہ لپٹیں | کرم از طفیلِ رضا یا اِلٰہی![1] |

## د فرښتو یو څو اداګانے

سُبْحٰنَ الله! فرښتې د اولیائے کرامو سره څنګه محبت کوي، دا هم واورئ! علّامه نجمُ الدِّین غَزّی رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه لیکي: ✿ فرښتې د ذِکرُ الله کولو والؤ (د الله پاک د نیک بندګانو) سره همدردي کوي ✿ فرښتې د دوئي تعریف کوي ✿ د دوئي په باره کښې ښه ګمان ساتي ✿ د الله پاک په حضور کښې د دوئي د نیکو کارونو ګواهي ورکوي ✿ د دوئي په دعاګانو باندې آمین وائي ✿ د اولیائے کرامو سره محبت کوي ✿ د دوئي په مجلسونو کښې کښیني ✿ په سفر او تنهائي کښې د دوئي سره اوسي ✿ او کله چې د الله پاک یو نیک بنده د دنیا نه رخصت شي نو فرښتې په هغه باندې غمژنې وي ✿ د هغه په جنازه کښې هم شرکت کوي ✿ او د هغوئي د مزارونو د زیارت د پاره هم تشریف راوړي.[2]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! چې فرښتې د اولیائے کرامو سره محبت

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه: 106 ملتقطًا.

[2]... حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَ فِی التَّشَبُّه، جلد: 1، صفحه: 231 334 344 359 376 ملتقطاً.

کوي بلکه صرف فرښتې نهٔ، د دې فرښتو آقا، زمونږه خوږ نبي، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم د اولیائے کرامو سره محبت فرمائي بلکه د هغوئي رَبِّ کریم، الله رَبُّ العالمِین هم د اولیائے کرامو سره محبت فرمائي نو اووائې! چې مونږه د خپل آقا غلامان، د الله پاک عاجزه بندګان به ولې د اولیائے کرامو سره محبت نه کوو. آو! مونږ ضرور د اولیائے کرامو سره محبت کولو، کوو ئې او اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم!تر مرګه پورې بلکه قبر ته به د دې پاک دینې، ایماني محبت سره کوزیږو او په حشر کښې به هم د دې محبت سره راپاځو. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم!

خُدا تجھ سے تیری وِلا مانگتا ہوں
صَحابہ کی اور اولیا کی مَحبّت

میں عشقِ شہِ انبیا مانگتا ہوں
کی خیرات تجھ سے خُدا مانگتا ہوں[1]

## د اولیائے کرامو سره د محبت په فضیلت باندې احادیث

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د الله پاک د نیکانو پرهیز ګاره بندګانو سره محبت کیدل ډیره د فضیلت خبره ده، دا پاک محبت د هر یو کَس نهٔ نصیب کیږي، صرف د پاک طبیعت خلقو ته عطا کولے شي او د کوم بنده په زړه کښې چې د اولیائے کرامو محبت موجود وي، دا د دې دلیل دے چې هغه بنده د پاک طبیعت او د ښه فِطرت مالِک دے. د حدیثِ پاک مشهور کتاب مسلم شریف کښې دي: د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اَلْاَرْوَاحُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ رُوحونه په خپل مینځ کښې ترلے شوے لښکر دے (یعنې په دې دُنیا کښې د انسان بدن ته د راتللو نه مخکښې په عالمِ اَرواح کښې رُوحونه یو ځائے اوسیدل). بس کوم رُوحونه (چې هلته یعنې په عالَمِ اَرواح کښې) د یو بَل

[1] ... وسائلِ فِردُوس، صفحه: 1 ملتقطًا.

سره پېژندګلو لري، (دنيا ته د راتللو سره هم د هغوئي سره) محبت کوي او کوم چې هلته د يو بَل نه اشنا پاتې شوي دي، هغه دلته هم بيل اوسيږي.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې حديثِ پاک باندې غور اوکړئ! په دې دنيا کښې زمونږ ډېر پېژندګلو والا وي، ځوک داسې وي د کوم سره چې مونږه ډېر محبت کوو، بعضې داسې خلق وي د کومو سره چې صرف دعا او سلام وي، څه داسې هم وي کوم چې مونږه پېژنو خو، د نوم ئې راته هم پته ده، د شکل نه ئې هم واقف يو خو د هغوئي سره څه سلام دعا نشته دے او په زرګونو په لکونو خلق په دنيا کښې هغه دي، کوم چې مونږه هډو پېژنو نه، دا معامله په اصل کښې څه ده؟ خبره په اصل کښې دا ده چې د کومو سره په عالِمِ ارواح کښې زمونږه ښه پېژندګلو وه، د هغوئي سره دنيا ته د راتللو سره هم ښه پېژندګلو وي، د کومو سره چې هلته پېژندګلو نه وه، د هغوئي سره دلته د راتللو سره هم پېژندګلو نه وي.

اوس لږ غور اوکړئ! ❀ په کومو زړونو کښې چې د حضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ محبت موجود دے ❀ کوم چې د خواجهٔ اجمير رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ سره محبت کوي ❀ کوم چې د داتا حضور رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ سره محبت کوي ❀ کوم چې د بابا فريد رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ سره مينه لري ❀ د خواجه نظام الدين اولياء رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ سره محبت کوي ❀ کوم چې زما د رضا سيدي اعلٰـى حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په محبت کښې شپې او ورځې تيروي ❀ هغه خومره خوش قسمته خلق دي ❀ خومره د پاک طبيعت خلق دي، د دې **حديثِ پاک** نه پته لګي چې زمونږه په زړونو کښې د غوث او خواجه محبت، د اولیائے کرامو محبت د نن

[1]… مسلم، کتاب البر و الصلة و الآداب، باب الارواح جنود مجندة، صفحه:1017، حديث:2638.

نه نۀ بلکه د زړګونو کالو نه دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اولیائے کرامو سره محبت کوونکي هغه خوش قِسمته دي د کومو چې په عالمِ ارواح کښې په موجودو کروړونو روحونو کښې کوم روحونه خوښ وو، د کومو په لور چې به دوئي مائله کیدل، هغه څه عام خلق نه وو بلکه نیکئ کوونکي، د الله پاک محبوب یعنې اولیائے کرام وو.

صحابہ کا گدا ہوں اور اَہلِ بیت کا خادِم
یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یارسولَ اللہ!
تمہارا فضل ہے جو میں غُلامِ غوث و خواجہ ہوں
نہ ہو کم اَوْلیا کی دِل سے الفت یارسولَ اللہ![1]

## د رَشک قابل خلق

الله! الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د اولیائے کرامو د محبت به څه وایو...!! دا هغه پاک محبت دے کوم چې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! جنت ته د تللو ذریعه جوړیږي. آو جي! دا ربښتیني خبره ده، حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: یو ځل یو کَس په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو، عرض ئې اوکړو: مَتَی السَّاعَةُ؟ یعنې یَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! قیامت به کله راځي؟ (یقیناً چې زمونږ د آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د قیامت عِلم وو، هغوئي ته معلوم وو چې قیامت به کله راځي، ځکه خو هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قیامت نښې اوښودلې، قیامت به په کومه ورځ راځي، دا ئې اووئیل، په کوم تاریخ به راځي، دا ئې هم اووئیل. آو! صرف کال ئې اونه ښودلو، ځکه چې د کال ښودلو اجازت نه وو، چې صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کله پوښتنه اوکړه چې

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:330.

قیامت به کله راځي؟ نو) هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې د جواب ورکولو په ځائے اوفرمائیل: وَمَاذَآ اَعۡدَدۡتَ لَهَا؟ تا د قیامت د پاره څه تیاري کړې ده؟

(صحابهٔ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان یقیناً چې لمُونځونه هم کول، تلاوت ئې هم کولو، روژې به ئې هم نیولې، ډیرې نیکئ به ئې هم کولې خو د صحابئ رسول مبارک انداز دے، هغوئي په څه نیکئ باندې باور اونکړو، بلکه د عاجزئ کولو سره ئې) عرض اوکړو: لَاشَيْءَ یعني یَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما هیڅ تیاري اونکړے شوه (لمُونځونه خو شته، نیکئ خو شته خو په هغې باور نشته دے، که الله پاک اوغواړي نو قبولې به ئې کړي، که نه غواړي نو نه به ئې قبلوي) اِلَّا اَنِّيْ اُحِبُّ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ (البته زما سره یو دولت دے او د قیامت د پاره زما سره هم دغه یوه مرسته ده او هغه دا ده چې) زه د الله پاک او د هغه د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ډیر محبت کووم.

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا واوریدل نو اوئې فرمائیل: اَنْتَ مَعَ مَنْ اَحْبَبْتَ یعني تهٔ چې د چا سره محبت کوې، د قیامت په ورځ به د هغه سره ئې.[1]

| | |
|---|---|
| پوچھے گا مولیٰ لایا ہے کیا کیا؟ | میں یہ کہوں گا، نامِ مُحَمَّدٍ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)[2] |

سُبْحٰنَ الله! د دې حدیثِ پاک نه معلومه شوه چې په دُنیا کښې انسان د چا سره محبت کوي، د قیامت په ورځ به د هغه سره وي. اوس غور اوکړئ! څومره خوش قسمته دي هغه خلق ❁ کوم چې د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره محبت کوي ❁ د خواجه او رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمَا سره محبت کوي ❁ د اولیائے کرامو په نومونو باندې محفلونه راجوړوي

---

[1] ... بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عمر بن الخطاب...الخ، صفحه:934، حدیث:3688.

[2] ... قبالۂ بخشش، صفحه:135.

❁ د هغوئي د ايصالِ ثواب ترتيب هم جوړوي ❁ د هغوئي ذِکر هم کوي ❁ د هغوئي په مينه مست هم وي ❁ د اولیائے کرامو د نومونو اوريدلو سره ❁ د هغوئي د سيرت لوستلو سره ❁ د هغوئي د پاک ذِکر اوريدلو سره چې د چا په مخونو باندې خوشحالئ راځي، نن په دنيا کښې دا خلق د اوليا الله سره محبت کوي ❁ سبا به د قيامت په ورځ رَبِّ کائنات هم دوئي د اولیائے کرامو سره ساتي ❁ د هغوئي سره به حشر هم وي او ❁ که الله پاک اوغوښتل نو په دوئي پسې به شاته شاته جنت ته هم لاړ شي.

آل واصحاب سے محبّت ہے
اور سب اولیا سے اُلفت ہے

یہ سب اللہ کی عنایت ہے
مل گئی مصطفٰے کی اُمّت ہے

غوث وخواجہ کی دِل میں اُلفت ہے
قلب میں عشقِ اعلیٰ حضرت ہے

مرحبا! اپنی خوب قسمت ہے
پیر و مرشِد کی دِل میں چاہت ہے[1]

## ستاسو د چا سره محبت دے...؟

اے عاشقانِ رَسُول! د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ انسان به د هغه سره وي، د چا سره چې محبت کوي.[2]

په حديثِ پاک کښې چې چرته د اولیائے کرامو سره د محبت د فضيلت يو اړخ رااوځي، هلته دا حديثِ پاک زمونږ د پاره د محبت يو معيار هم مقرروي. معلومه شوه چې ❁ څوک د جنت په لاره باندې روان وي ❁ څوک چې لمُونځونه کوي، سنت خپلوي ❁ نيک کارونه کوي ❁ جنت ته بوتلونکي اعمال کوي ❁ که نن مونږه د

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:684.

[2]... بخاری، کتاب الادب، باب علامة حب الله...الخ، صفحه:1529، حديث:6168.

دوئي سره محبت اوکړو ❁ د دوئي سره دوستي اوکړو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم!د قيامت په ورځ به د دوئي سره يو او الله دې نه کړي! که نن مونږ د دوزخ په لار د تلونکو سره کيښنو ❁ کوم چې لمونځونه نه کوي ❁ روژې نه نيسي ❁ سندرې باجے اوري ❁ فلمونه ګوري ❁ کنزلې کوي ❁ جنګ جګړې کوي ❁ شرابونه څښي ❁ جوارې کوي ❁ د الله او د رسول نافرماني کوي، که مونږه د داسې خلقو سره دوستي اوکړه او خدائے دې نه کړي د توبے کولو نه بغير د دنيا نه لاړ شو نو آه! د حديثِ پاک مطابق به د قيامت په ورځ هم د دوئي سره راپاځولے کيږو. الامان والحفيظ!

| صحبتِ صَالِح تُرَا صَالِح کُند | صحبتِ طَالِح تُرَا طَالِح کُند |
| --- | --- |

ترجمه: يعنې د ښه [خلقو] صحبت به تا ښه جوړ کړي، د بد [خلقو] صحبت به تا بد جوړ کړي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دا دے د کوم سره چې تا محبت کولو...!!

اے عاشقانِ رَسُول! د دې احاديثو اوريدو سره کيدے شي چې په ذهن کښې خيال راځي چې دا احاديث خو د هغه چا په باره کښې دي کوم چې انسان ليدلي وي، د هغه سره ميلاؤ شوے راميلاؤ شوے وي، بيا ئې د هغه سره محبت کړے وي، مونږه خو د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زيارت هم نه دے کړے، د داتا حضور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د صحبت نه محرومه پاتې شوي يو، د خواجهٔ اجمير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خبرې مو هم نه دي اوريدلې، د اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ملاقات شرف مو هم نه دے حاصل کړے، زمونږ د پاره دا

فضیلت څنګه کیدے شي؟ مونږه د قیامت په ورځ د هغوئي سره څنګه راپاڅیدے شو؟ راځئ! د دې خیال د ختمولو د پاره درته یو حدیثِ پاک اورووم. د صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے، د رسولانو سردار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: 2 بندګان وي، په دوئي کښې یو په مشرق کښې اوسیږي، بَل په مغرب کښې اوسیږي (یعني د دواړو ترمینځه ډیره فاصله ده، یو د دُنیا په یو ګوټ کښې دے، بَل د دُنیا په بَل ګوټ کښې دے، دواړو په خپل مینځ کښې یو بَل لیدلے هم نه دے، خپل مینځ کښې ئې ملاقات هم نه دے شوے، په خپل مینځ کښې ئې خبرې هم نه وي کړې، بس اوریدلي ئې وي چې په فلانکي ځائے کښې یو بنده اوسیږي، ډیر نیک دے، پرهیزګاره دے، د الله پاک عبادت کوي، بس په دې بنیاد باندې) هغوئي په خپل مینځ کښې صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره محبت کوي. اوئې فرمائیل: کله چې د قیامت ورځ راشي، الله پاک به دا دواړه را یو ځائے کړي او کوم چې محبت کولو والا دے، هغه ته به وئیلے شي: هٰذَا الَّذِیۡ کُنۡتَ تُحِبُّہٗ فِیَّ یعني دا دے هغه بنده د کوم سره چې تا د الله پاک د رضا د پاره محبت کولو.[1]

اَللّٰہُ اَکۡبَر! څومره ښکلے شان دے...!! ❁ مونږه د غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ زیارت نه دے کړے ❁ دا زمونږه محرومي ده ❁ مونږه د داتا حضور رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ خبرې نه دي اوریدلي، دا زمونږه محرومي ده ❁ مونږه د خواجه حضور او د سیدي اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِما په زمانه کښې نه وو، دا زمونږه محرومي ده خو د الله پاک په فضل او رحم باندې مونږه د دوئي سره محبت کوو، اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! د قیامت په ورځ به مونږه د دې اولیائے

---

[1]... شُعَبُ الایمان، باب فی مقاربۃ و موادۃ اہل الدین، جلد:6، صفحه:492، حدیث:9022.

کرامو په خدمت کښې د حاضرولو سره وئیلے شي: دا دي هغه اولیائے کرام د کومو سره چې به تاسو محبت کولو.

ندا دے گا مُنادِی حشر میں یُوں قادریوں کو | کدھر ہیں قادری کرلیں نظارہ غوثِ اعظم کا
چلا جائے بلاخوف وخطر فردوسِ اعلیٰ میں | فقط اک شرط ہے ہونام لیوا غوثِ اعظم کا

فرشتو روکتے کیوں ہو مجھے جنّت میں جانے سے
یہ دیکھو ہاتھ میں دامن ہے کس کا غوثِ اعظم کا[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د قیامت په ورځ د رَشک قابل مرتبے موندلو والا

اے عاشقانِ اولیاء! د اولیاؤ د محبت هم څومره ځانګړے فضیلت دے، راځئ! یو بَل حدیثِ پاک اورو، د حدیثِ پاک کتاب اَبُو داؤد شریف کښې د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے: رسولِ خُدا، احمدِ مجتبٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: بے شکه د الله پاک څه بندګان دي، هغوئي نبیان هم نه دي، شهیدان هم نه دي (خو د هغوئي شان داسې دے چې) د قیامت په ورځ به د هغوئي مقام او مرتبے ته انبیائے کرام علَیهِمُ السّلام او شهیدان هم د فخر په نظر ګوري. عرض اوکړے شو: یَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! هغه څوک دي؟ اوئې فرمائیل: دا هغه خلق دي د کومو چې په خپل مینځ کښې څه خپلولي هم نشته، په خپل مینځ کښې ئې د مال څه لین دِین هم نشته، دا صرف او صرف په خپل مینځ کښې د الله پاک د رضا د پاره محبت کوونکي دي.[2]

---

[1]... قبالۂ بخشش، صفحه:99.

[2]... ابو داؤد، کتاب البیوع، باب فی الرہن، صفحه:561، حدیث:3527 ملتقطًا.

اے عاشقانِ رَسُول! هسې خو اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږه د اولیائے کرامو صدقه خورو خو لږ غور اوکړئ، په مونږه کښې څومره خلق دي چا له چې غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه 10، 20 مرلے پلاټ ورکړے وي؟ هغه څوک دے چا له چې اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په خوب کښې د تشریف راوړلو سره د 50 لاکهو روپو چیک ورکړے وي؟ کیدے شي چې څوک هم داسې میلاؤ نه شي. بیا د دوئي سره محبت ولې کوي؟ ډیره ساده شان پوښتنه ده: د غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په مبارک وخت کښې بادشاه څوک وو؟ په هغه وخت کښې وزیر څوک وو؟ کیدے شي چې اکثریت د هغه خلقو وي، کوم چې د هغه دور د بادشاه یا وزیر یا غټو غټو مالدارانو نومونه هم نه پیژني خو قربان شم! ❀ د غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نوم ورته هم معلوم دے ❀ د هغوئي د سیرت واقعې ورته هم معلومې دي ❀ د هغوئي کرامات ورته هم معلوم دي ❀ د هغوئي په نوم باندې محفلونه هم جوړوي ❀ د هغوئي په نوم باندې یولسم شریف هم کوي، آخر څه وجه ده؟ د خپل زړه نه د پوښتنې کولو سره اوګورئ! صرف یو جواب به میلاویږي: ❀ غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د الله پاک نیک بنده وو ❀ هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به د شپې عبادتونه کول ❀ غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه روژې نیولو والا وو ❀ غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه لمُونځونو کولو والا وو ❀ چونکه هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د الله پاک محبوب بنده وو ❀ ځکه مونږ د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه سره محبت کوو.

او څوک چې صرف او صرف د الله پاک د رضا په خاطر په خپل مینځ کښې محبت کوونکي دي، د هغوئي څومره ښه شان دے؟ خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د هغوئي مخونه به د نُور نه پړقیږي، په هغوئي باندې به نُور راخور وي او هغوئي به هغه وخت نه ویریږي، کله چې به خلق ویریږي او هغوئي به هغه وخت بے غمه وي، کله چې به خلق غمژن وي.[1]

---

[1] ... ابو داؤد، کتاب البیوع، باب فی الرہن، صفحه: 561، حدیث: 3527.

## د عرشِ الٰهی سورے موندلو والا

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د اولیائے کرامو سره د محبت کوونکو خومره ځانګړے شان دے، د حدیثِ پاک مشهور کتاب مُسلِم شریف کښې دي، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبٰــی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: بے شکه د قیامت په ورځ به الله پاک فرمائي: زما د جلال (یعنې زما د عظمت) په خاطِر په خپل مینځ کښې محبت کوونکي چرته دي؟ نن چې په یو ځائے کښې چرته سورے نشته دے، زه به هغوئي ته د خپل عرش سورے عطا کووم.[1]

## د جنّت نُوراني ستَني

د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے، د مدینے سرکار، د زړونو قرار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: بے شکه په جنّت کښې د یاقُوت (نومې کاڼي) جوړې شوې ستَنې دي، د دې د پاسه د زبرجدو جوړې شوې بالاخانے دي، د دې دروازې برسیره دي، دا داسې پړقیږي لکه څنګه چې ستوري پړقیږي. پوښتنه اوکړے شوه: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په دې کښې به څوک اوسیږي؟ اوئې فرمائیل: اَلْمُتَحَابُّوْنَ فِی اللّٰهِ د الله پاک د رضا د پاره محبت کوونکي.[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلے شان دے...!! د اولیائے کرامو سره د محبت کولو چې به دا دومره بے مثاله اجر ورکولے شي، د دې هم هیڅ قیمت نشي کیدے خو قربان شم! د

---

[1]... مسلم، کتاب البر و الصلة و الآداب، باب فی فضل الحب فی الله، صفحه:996، حدیث:2566.

[2]... مسندِ بزّار، جلد:15، صفحه:282، حدیث:8776.

الله پاک عطاکاني بے شمیره دي، د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د دې حدیثِ پاک په شرح کښې فرمائي: دا چې کوم اَجر بیان کړے شو، دا صرف د رَبّ د رضا د پاره د محبت کولو اجر دے، د دې محبت په نتیجه کښې چې بنده څه کوي (لکه د غوث او خواجه په محبت کښې چې کوم محفلونه راجوړولے شي، د هغوئي د ایصال ثواب د پاره چې کوم تلاوت کیږي، خوراک، اوبه او خواږه وغیره تقسیمیږي، وږي مړولے شي، د هغوئي په محبت کښې د هغوئي په شان د اعمالو کولو کوشش کولے شي، د دې نیک اعمالو ثواب)، د دې اَجر نه بیل دے.[1]

مری مغفرت کر برائے صحابہ
جگہ خلد میں از پئے اولیا دے
عذابِ جہنّم سے خوف آ رہا ہے
مجھے بخش، کر در گزر ہر خطا دے[2]

## د الله پاک محبوب جوړولو والا عمل

اے عاشقانِ اولیاء! د اولیائے کرامو سره صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره د محبت کولو څنګه څنګه برکتونه دي، که بیانوې ئې هم نو تر کومه ځائے به ئې بیانوې؟ د دې پاک او ایماني محبت یو بهترین برکت دا هم دے چې کوم بنده د اولیائے کرامو سره محبت کوي، هغه د الله پاک محبوب جوړیږي. عاشقِ مدینه، حضرت امام مالک رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه دا خبره هم لیکي چې حضرت ادریس خولاني رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: یوه ورځ زه د دمشق جُمات ته لاړم، ما اولیدل چې هلته د یو نُوراني مخ والا بزرګ ناست دے، خلق د هغه نه راچاپیره شوي دي، (د عِلمِ دِین زده کولو سلسله روانه ده) کله چې هم د خلقو په

[1]... مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحه:605 بتغیر قلیل.
[2]... وسائلِ فردوس، صفحه:6.

خپل مینځ کښې څه اختلاف راځي (مثلاً د عِلم په یوه خبره باندې په پوهیدو کښې مشکل راځي ته کیږي) نو هغوئي د دې نُوراني مخ والا بزرګ خوا له ځي، هغه د دوئي مسئلے حل کوي. ما د خلقو نه پوښتنه اوکړه: دا نُوراني مخ والا بزرګ څوک دے؟ جواب میلاؤ شو: هٰذَا مُعَاذُ بْنُ جَبَل یعني دا صحابئ رسول حضرت مُعَاذ بن جبل رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دے. حضرت ادریس خولاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: (هغه وخت زه واپس لاړم) په بله ورځ ما اوغوښتل چې زه سحر د ټولو نه مخکښې جُمات ته لاړم شم! خو چې لاړم نو اومې کتل چې حضرت معاذ بن جبل رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ زما نه مخکښې جُمات ته تشریف راوړے دے، هغوئي لمُونځ کولو، کله چې هغوئي فارغ شول نو زه را وړاندې شوم، سلام مې اوکړو. بیا مې عرض اوکړو: وَاللهِ اِنِّي لَاُحِبُّكَ لِلّٰهِ په الله مې دې قسم وي! زه ستاسو سره د الله پاک د رضا د پاره محبت کووم. حضرت معاذ بن جبل رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ چې دا واوریدل نو اوئې فرمائیل: آیا ته په دې خبره باندې قسم خورې؟ عرض مې اوکړو: آو جي! په الله مې دې قسم وي! زه ستاسو سره محبت کووم. فرمائي: بیا حضرت معاذ بن جبل رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ زما څادر اونیولو او زه ئې په مزه شان د خپل ځان خوا ته راښکلم، بیا ئې اوفرمائیل: ستا دې مبارک شي. بے شکه ما د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلے دے چې الله پاک فرمائي: څوک چې زما د رضا د پاره په خپل مینځ کښې محبت کوي، د هغوئي د پاره زما محبت واجب شو.[1]

الحاج مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حدیثِ پاک په شرح کښې فرمائي: یعني دا ممکن نه ده چې څوک د الله پاک د رضا د پاره د هغه د بندګانو سره

[1]... مؤطا امام مالک، کتاب الشعر، باب ما جاء في المتحابین في الله، صفحه:503، حدیث:1828 ملتقطًا.

محبت کوي او الله پاک د هغه سره محبت نه کوي (چې څوک هم د الله پاک د بندګانو سره صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره محبت کوي، په لازمي طور باندې هغه د الله پاک محبوب جوړيږي). مفتي صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: چې الله پاک ته سجده کول وي نو د کعبې په لور د مخ کولو سره سجده کوه! دغه شان که د الله پاک سره محبت کول وي نو د هغه د بندګانو سره محبت کوه.[1]

صحابہ کی اور اولیا کی محبّت
کی خیرات تجھ سے خدا مانگتا ہوں
الٰہی نہیں چاہیے تختِ شاہی
فقط تیری رحمت، خدا مانگتا ہوں[2]

## فرښتې په انساني شکل کښې د راتللو سره زيرے ورکړو

په مُسلِم شريف کښې حديثِ پاک دے: يو ګس وو، هغه د خپل مسلمان ورور د ملاقات د پاره د کور نه اووتلو، د بَل کلي په لور روان وو، الله پاک د هغه په لاره کښې يوه فرښته (په انساني شکل کښې) کښينوله. کله چې هغه ګس د فرښتې خوا ته اورسيدو نو فرښتې ترينه پوښتنه اوکړه: د کوم ځائے اراده دې ده؟ اوئې وئيل: په فلانکي کلي کښې د يو دِيني ورور سره د ملاقات د پاره ځم. فرښتې پوښتنه اوکړه: آيا د هغه په تا باندې څه احسان دے (مثلاً هغه تۀ د څه سختۍ نه بچ کړے وې، څه رقم وغيره ئې درله درکړے وو، تۀ ئې په نوکرئ لګولے وې چې) تۀ د هغې د بدل پوره کولو د پاره ځې؟ هغه اووئيل: نۀ، داسې هيڅ خبره نه ده، زه خو د هغه سره صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره محبت کووم. فرښتې اووئيل: بے شکه ما د الله پاک د طرف نه ستا د پاره پيغام راوړے دے

---

[1]... مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحہ:591 592 بتغیر قلیل.

[2]... وسائل فردوس، صفحہ:21.

www.dawateislami.net

چې څنګه تهٔ د هغه سره د الله پاک د رضا د پاره محبت کوې، هم دغه شان الله پاک هم ستا سره محبت کوي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! په دې حديثِ پاک کښې د الله پاک د رضا د پاره د نيک خلقو سره د محبت کولو د فضيلت بيان دے، د دې سره سره دا هم معلومه شوه چې د کومو نيکو خلقو سره، د اولیائے کرامو سره محبت وي، د هغوئ سره د ملاقات د پاره تلل هم د نيکئ کار دے.[2] په حديثِ پاک کښې دي: بنده چې کله د خپل ديني ورور سره د ملاقات د پاره د کور نه ووځي نو 70 زره فرښتې په هغه باندې سورے کوي او د هغه د پاره دُعا کوي.[3]

## د ايمان د پاره د ټولو نه مضبوطه رَسئ

اے عاشقانِ رَسُول! د اولیائے کرامو سره د محبت مونږه کوم فضيلتونه واوريدل چې ❁ د دې ايماني محبت په برکت جنت نصيب کيږي ❁ په جنت کښې اوچتې پرِقيدونکې بالاخانے نصيب کيږي ❁ د دې محبت په برکت باندې به د قيامت په ورځ امن نصيب کيږي ❁ د عرشِ الٰهی سورے به نصيب کيږي ❁ د الله پاک د محبوب بنده جوړيدو سعادت به نصيب کيږي، ياد ساتئ! دا ټول نعمتونه به هغه وخت نصيب کيږي، چې انسان ايمان والا هم وي ځکه چې د آخرت د کاميابئ د پاره د ټولو نه بنيادي شرط ايمان دے. ځکه مونږ له د خپل ايمان د حفاظت فِکر هم کول پکار دي.

---

[1]… مسلم، كتاب البر و الصلة و الآداب، باب في فضل الحب في الله، صفحه:996، حديث:2567.

[2]… مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:588 بتغير قليل.

[3]… شُعَبُ الايمان، باب في مقاربة …الخ، قصة ابراهيم …الخ، جلد:6، صفحه:493، حديث:9024.

مونږ به د ایمان حفاظت ځنګه کوو؟ د دې طریقه هم واورئ! خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: مَنْ سَرَّہٗ اَنْ یَّجِدَ حَلَاوَۃَ الْاِیْمَانِ څوک چې د ایمان خوږ والے موندل غواړي، فَلْیُحِبَّ الْمَرْءَ لَا یُحِبُّہٗ اِلَّا لِلّٰہ هغه له پکار دي چې د هغه د بندګانو سره صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره محبت کوي.[1]

امام احمد بن حنبل رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ حدیثِ پاک اولیکلو، صحابئ رسول حضرت بَرّاء بن عازِب رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: مونږ په بارګاهِ رسالت کښې ناست وو، هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: اَیُّ عُرَی الْاِیْمَانِ اَوْثَقُ یعنې د ایمان د ټولو نه مضبوطه رسئ کومه یوه ده؟ صحابهٔ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: لمونځ. اوئې فرمائیل: لمونځ ډیر ښه دے خو زما د پوښتنې جواب دا نه دے. بیا ئې عرض اوکړو: د رمضان [د میاشتې] روژې. روژې هم بهترین عبادت دے خو زما د پوښتنې جواب دا هم نه دے. صحابهٔ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: جهاد. اوئې فرمائیل: دا هم بهترین عبادت دے خو زما د پوښتنې جواب څه بَل څه دے. بیا هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله د جواب ورکولو سره اوفرمائیل: بے شکه **د ایمان د ټولو نه مضبوطه رَسئ** دا ده چې **تاسو د الله پاک د رضا د پاره (د هغه د بندګانو مثلاً اولیائے کرامو سره) محبت اوکړئ!**[2]

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! معلومه شوه چې د ایمان سلامت ساتلو د پاره مضبوطه رسئ **اِیماني محبت** دے. دا ډیره اهمه خبره ده، **محبت** انسان نه بے لارې کوي. څومره چې عاشقانِ رسول دي، عاشقانِ اولیاء دي، هغوئي دې د خپل ځان جاج واخلي. ډیر به داسې وي چې هغوئي ته به شیطان وسوسه ور اچوي ❁ تهٔ لمونځونه قضا کوې ❁ په روژو نیولو کښې سستي کیږي. دا نه ده پکار، غلطه خبره ده ❁ لمونځ قضا کول ❁ روژې نه نیول دا د ګناه کار دے خو

---

[1]… مستدرک، کتاب الایمان، جلد:1، صفحه:147، حدیث:3.

[2]… مسندِ امام احمد، جلد:7، صفحه:532، حدیث:19027 ملتقطًا.

کومه خبره چې عرض کول غواړم، هغه دا ده چې که په زړه کښې د الله او د رسول محبت موجود دے، د اولیائے کرامو محبت موجود دے نو دعویٰ ده چې چرې به هم ❁ د الله پاک ❁ د هغه د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ❁ د صحابۂ کرامو ❁ اهلِ بیت اطهار رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم ❁ اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡهِم په باره کښې ګستاخئ والا خیال نه وي راغلے. تر اوسه پورې اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! په مسلمانانو کښې دومره غیرت موجود دے، لوئے لوئے فتنے را اوچتیږي، خلق د فتنو خپرونکو طرف ته مائله کیږي هم خو چې کله مخامخ ګس د الله پاک په شان کښې څه غلط لفظ وائي، د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګستاخي کوي، د صحابۂ کرامو، اهلِ بیتِ اطهار رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم یا اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡهِم په شان کښې نازیبا جملے بیانوي نو په زړه کښې د هغه نفرت کښیني، بیا زړه د هغه هیڅ خبره اوریدل نه غواړي، داسې انسان د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت په برکت سره، د اولیائے کرامو د محبت په برکت سره د فتنے د ښکار کیدو نه بچ کیږي. پته اولګیده چې د اولیائے کرامو محبت، د صحابۂ کرامو او اهلِ بیتو محبت د ایمان د تولو نه مضبوطه رَسۍ ده، تر څو پورې چې مونږه دا رسۍ مضبوطه نیولې ده، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! ایمان محفوظ دے. که دا رسۍ د لاس نه خلاصه شوه نو د فتنو نه په دې دکه دنیا کښې به ایمان بچ کول ډیر ګران شي.

کٹی غفلتوں میں زندگانی
نہ جانے حشر میں کیا فیصلہ ہو
کرم ہو واسطہ کُل اولیا کا
مرا ایماں پہ مولیٰ خاتمہ ہو
اِلٰہی ہوں بہت کمزور بندہ
نہ دُنیا میں، نہ عقبیٰ میں سزا ہو [1]

ځکه مونږ له پکار دي چې ❁ د صحابۂ کرامو، اهلِ بیتو او ❁ د اولیائے کرامو سره ښه محبت اوکړو ❁ د دې پاک او ایماني محبت په زړه کښې د قائم ساتلو د پاره کوشش هم

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 316 ملتقطًا.

کوو ❁ د هغوئي پاک سيرت لولو هم ❁ د هغوئي د ذِكر محفلونه جوړوو ❁ صرف او صرف د عاشقانِ صحابه او عاشقانِ اولياء سره كښينو ❁ هم د دوئي سره دوستي كوو ❁ اَوَّل خو د سوشل ميډيا استعمال ډير خطرناک دے، كه سوشل ميډيا استعمالوو هم، بيا هم صرف او صرف د عاشقانِ رسول، عاشقانِ صحابه او اولياء خبرې اورو، د دې په بركت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!دا پاک او ايماني محبت په زړه كښې مضبوطيږي، كه دا محبت مضبوط پاتې شو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!د ايمان سلامتيا سره به د دنيا نه رخصت شو.

آپ جیسا پیر ہوتے کیا غرض در در پھروں
آپ سے سب کچھ مِلا یا غوثِ اعظم دست گیر!

راستہ پُر خار، منزل دُور، بَن سُنسان ہے
المدد! اے رہنما! یا غوثِ اعظم دست گیر!

اب سرہانے آؤ! مرشد اور مجھے کلمہ پڑھاؤ
دم لبوں پر آگیا یا غوثِ اعظم دست گیر![1]

## د اولیائے کرامو سره د بُغض ساتلو نه بچ اوسئ

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږ د اوليائے كرامو سره د محبت فضيلتونه او د دې بركتونه واوريدل، د دې سره سره دا هم په ذهن كښې ساتئ! چې د اوليائے كرامو سره بُغض ساتل، د هغوئي نفرت په زړه كښې پالل، د اوليائے كرامو ګستاخياني كول، د هغوئي په شان كښې سپک لفظونه وئيل ډير خطرناک او په دنيا او آخرت كښې د هلاكت سبب دے. په بُخاري شريف كښې حديثِ پاک دے او دا حديثِ قُدسي هم دے يعني كلام د اللّٰه پاک دے، مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيان فرمائيلے دے، اللّٰه پاک فرمائي: مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ خوک چې زما د يو وَلِي سره دښمني اوساتي، زه د هغه سره د جنګ

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:548 549 ملتقطًا.

اعلان کووم.[1]

دا دے د الله پاک په بارګاه کښې د اولیائے کرامو مقام او مرتبه، د اولیائے کرامو عزت چې د کوم بنده په زړه کښې د اولیائے کرامو د ذرې برابر دښمني هم وي، هغه بنده چرې هم د الله پاک محبوب بنده نشي جوړیدے، داسې چرې هم نشي کیدے چې د بنده په زړه کښې د اولیائے کرامو دښمني هم وي او هغه د دښمنۍ سره سره د الله پاک په راضي کولو کښې کامیاب هم شي، ولې؟ ځکه چې د چا په زړه کښې د اولیاؤ دښمني وي، الله پاک د هغه سره د جنګ اعلان فرمائي.

## د الله پاک غضب والا کلام

د امام احمد بن حنبل رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه په اَلزُّهد کتاب کښې دي: الله پاک حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام ته اوفرمائیل: اے موسیٰ! یاد ساته! کوم بنده چې زما د یو ولي ګستاخي کوي یا هغه ویروي نو تحقیق هغه زما سره د جنګ اعلان اوکړو. بس زه ډیر زر د خپلو اولیاؤ مدد فرمایم ✿ آیا زما سره د جنګ اعلان کولو والا دا ګڼي ✿ چې هغه به زما مخې ته اودریږي؟ ✿ آیا د هغه دا ګمان دے چې ما به عاجزه کړي؟ ✿ آیا هغه ته دا لګي چې زما نه به وړاندې شي؟ ✿ آیا هغه به ما له شکست راکړي؟ داسې څنګه کیدے شي...؟ ولې زه په دُنیا او آخرت کښې د خپلو اولیاؤ بدلے اخستلو والا یم.[2]

الله! الله! دا څومره غضب والا کلام دے...!! د اولیائے کرامو سره دښمني کولو والا څنګه رَټلے شوي دي...!! تاریخ ګواه دے، چا چې هم اولیائے کرامو ته تکلیف رسولے دے د هغه انجام عبرتناک شوے دے.

---

[1]... بخاری، کتاب الرقاق، باب التواضع، صفحه:1597، حدیث:6502.

[2]... الزہد لاحمد بن حنبل، اخبار موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام، صفحه:96، حدیث:342.

## تکلیف رَسولو والا په عبرتناک مرګ مړه شول

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! علّامه محمد بن یَحیٰي حَلَبي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: مونږ په خپلو سترګو باندې لیدلي دي چې د حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه اولاد ته هم که چا ضرر رسولے نو هغه پخپله هم تباه و برباد شوے او د هغه اولاد هم هلاک شوے دے.

❁ شیخ احمد بن قاسِم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په اولاد کښې دے، یو بد بخته یو ځل هغوئي ته سخت تکلیف اورسولو اوس لا لږه موده تیره شوې وه چې الله پاک هغه تباه و برباد کړو، تر دې پورې چې د هغه په اولاد کښې څوک هم باقي پاتې نه شو، رَبِّ کائنات د هغه نسل هم ختم کړو ❁ دغه شان وزیر ناصِرُ الدِّین د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه اولادِ پاک په قسما قِسم طریقو تنګ کړو، تر دې پورې چې هغوئي ئې د بغداد ښار نه هم ویستل. الله پاک هغه له د دې ګستاخۍ سزا ورکړله او دا وزیر ډیره په درد ناکه طریقه مړ شو.[1]

الله پاک دې مونږه د اولیائے کرامو د ګستاخۍ او د دوئي د دښمنۍ نه همیشه محفوظ کړي. الله پاک دې اوکړي چې زمونږ په زړونو کښې همیشه د اولیائے کرامو محبت روښانه وي، کاش! چې په دې محبت کښې ژوندي یو، په دې کښې مړه شو، د قیامت په ورځ هم د دې محبت سره راپاڅو او د دوئي په وسیله بغیر د حساب کتاب نه جنت ته داخل شو.

اٰمین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مَحفُوظ سَدا رکھنا شہا! بے اَدَبوں سے | اور مُجھ سے بھی سَرزَد نہ کبھی بے اَدَبی ہو[2]

[1]... قلائد الجواہر، صفحه:56.

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:315.

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: علاقائي دوره

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د فتنو نه ډَک دور دے، فتنې په مختلف انداز سره سر اوچتوي، په داسې حالاتو کښې د عاشقانِ رسول **ديني تحريک دعوتِ اسلامي** ديني ماحول د الله پاک لوئے نعمت دے، په خپل زړه کښې د عشقِ رسول زياتولو، د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو او اولیائے کرامو د محبت ډيوے په سينو کښې د بَلولو د پاره د دې ديني ماحول لمَن اونيسئ! په 12 ديني کارونو کښې هم پوره حِصَّه واخلئ، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: علاقائي دوره. ❁ **د حديثِ پاک خلاصه ده:** په کومه ښپه باندې چې د الله پاک په لاره کښې دوړه پريوځي، هغې ته به د دوزخ اور نه ورنزدې کيږي[1] ❁ د نيکئ د دعوت ورکولو، د ګناه نه د منع کولو د پاره د کور نه وَتل هم د الله پاک په لاره کښې وَتل دي ❁ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکئ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❁ مختلفو قبائلو ته به ئې د تللو سره هم د نيکئ دعوت ورکولو ❁ **د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول** هم د دې ښکلې ادا د ادا کولو کوشش کوي ❁ کور کور، دُکان دُکان ته د تللو سره د نيکئ دعوت ورکولے شي ❁ خلقو ته جُمات ته د راتللو دعوت ورکولے شي ❁ د لمونځونو ترغيب ورکولے شي ❁ مونږ دې ته علاقائي دوره وايو ❁ **تاسو هم د عاشقانِ رسول سره په شريکه علاقائي دوره کوئ!** اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! ❁ د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام په سُنت باندې به د عمل

---

[1] ... مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356.

کولو سعادت نصیب کیږي ❁ د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب به میلاویږي ❁ د حدیثِ پاک مطابق د نیکۍ لاره ښودلو والا، د نیکۍ کولو والا په شان دے[1] ❁ که زمونږ د نیکۍ په دعوت یو کَس هم نیک لمُونځ گزاره جوړ شو نو یقین اوکړئ! مزې به مو شي ❁ (په کومه ورځ او کوم ځائے کښې چې علاقائي دوره کیږي، هغه اوښائې! مثلاً اووائې!) د هرې شروعِ [چارشنبې] په ورځ د مازدیګر لمَانځه نه پس د فیضانِ مدینه سره په خوا کښې محله کښې علاقائي دوره کیږي، تاسو هم تشریف راوړئ! د مازدیګر لمُونځ په فیضانِ مدینه کښې کوئ! بیا په شریکه د نیکۍ دعوت عام کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم !ډیر ثواب به مو کیږي! ستاسو د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے اورووم:

## د غیر مسلمو اسلام قبلول

د ضلع غازي پور (اُتر پردیش، هند) د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده: د مازدیګر د لمَانځه نه پس د **علاقائي دورې** سلسله کښې د یو حجّام دکان ته لاړو چرته چې یو څو ماډرن ځلمي په کپونو لګولو کښې مصروف وو، رهنما را وړاندې شو او پیژندګلو ئې اوکړه نو د نیکۍ دعوت ورکوونکي اسلامي ورور فوراً د درد نه په ډک انداز کښې د نیکۍ د دعوت ورکول شروع کړه. د نیکۍ د دعوت نه پس ئې هغوئي ته جُمات ته د تللو دعوت ورکړو هغوئي انکار اوکړو خو د عاشقانِ رسول د محبت نه په ډک اصرار باندې آخر هغوئي د لمُونځ نه پس په کیدونکي بیان کښې د شرکت کولو د پاره راضي شول. د لمُونځ نه پس چې څنګه بیان شروع شو هغه ټول راغلل. د بیان په ختمیدو باندې د ایمان د دولت د اهمیت ښودلو سره د ایمان د حفاظت د فکر کولو ذهن ورکړے شو، د

[1]... ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدّال...الخ، صفحه:628، حدیث:2670.

دې نه پس هغوئي د جُمات نه بهر لاړل. اوس لا لږ وخت تیر شوے وو چې هغوئي بیا واپس راغلل د هغوئي د مخونو تاثراتو یو لوئے انقلاب ښودلو، هغوئي اووئیل: مونږه غیر مسلمه یو تاسو مونږ ته کلمه اووائې او مسلمانان مو کړئ! مونږ اسلام ته راتلل غواړو. د قافلے امیر ورته فوراً کلمه طیبه لَا اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰه مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه اووئیله او هغه ټول ئې مسلمانان کړل. بیا د قافلے امیر په اسلام راوړلو باندې د خوشحالئ اظهار کولو سره مبارکي ورکړله. هغوئي اووئیل مونږ په بیان کښې د قبر حالات واوریدل چې د ښه کارونو کولو والؤ سره هغه څه معامله کوي او د بدو کارونو کولو والؤ سره څومره خطرناک سلوک کوي د اسلامي تعلیماتو مطابق ستاسو په سنت باندې د عمل کولو او د دین او د ایمان د حفاظت د پاره د زړه درد لیدلو سره زړه او دماغو ګواهي ورکړله چې اهلِ اسلام د حق او رښتیا دعوت ورکوونکے او د خلاصي لاره ده.[1]

مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربّ غفّار! مدینے کا[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د لمُونځونو د وخت (*Prayer Times*) د ایپ پیژندګلو

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډیپارټمنټ یو ډیر ښکلے موبائل ایپلي کیشن د لمُونځونو د وختونو ***(Prayer Times)*** په نوم جاري کړے دے

❁ د دې ایپلي کیشن په ذریعه په ټوله دنیا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ

---

[1] … فیضانِ صدیقِ اکبر، صفحه:140 141 خلاصةً.

[2] … وسائلِ بخشش، صفحه:180.

معلومیدے شي ❁ د دې نه علاوه د پینځه وارو لمونځونو وختونه میاشتنے ټائم ټیبل ❁ ذِکرونه (روحاني علاج) ❁ مدني چینل ریډیو ❁ د لمونځونو په وختونو کښې د موبائل سائلنټ (*Silent*) کولو سهولت او اسلامي کلینډر موجود دے. په خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنّت فضیلت او د ژوند د ځینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ریټ [نرخ] کمول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: الله پاک دې په هغه کَس باندې رحم اوکړي څوک چې په خرڅولو او اخستلو کښې آساني کوي.[2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د هر یو څیز اخستلو په وخت قیمت کمول سُنَّت عمل دے.[3] ❁

اعلٰـی حضرت، امامِ اهلِسُنَّت رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه فرمائي: د نرخ کمولو د پاره حجت (یعني بحث)

---

[1]... مشکوٰۃ، کتابُ الْاِیمان، بابُ الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حدیث:175.

[2]... مسند ابی یعلٰی، جلد:5، صفحه:195، حدیث:6824 ملتقطاً.

[3]... مرآۃ المناجیح، جلد:4، صفحه:304 بتغیر قلیل.

کول بهتر دے بلکه سُنَّت عمل دے[1] ❀ یو ځل حضرت سُوَید بن قَیس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کپړې راوړې او مکې مکرمې ته راغلے نو خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي نه څه کپړې واخستلې. حضرت سُوَید بن قَیس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ سره قیمت اوتاکلو، څه ئې کم کړلو، آخِر ئې هغه کپړې واخستلې[2] ❀ امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د کمزوري (مثلاً د بوډا) یا فقیر (یعني غریب او محتاج) نه چې څه څیز اخلئ نو په هغه باندې آساني کوئ او د هغه نه څیز ګران اخلئ، دا د نیکئ کار دے.[3] ❀ بعضې اخستونکے د قیمت کمولو د پاره او دکاندار د قیمت نه کمولو د پاره دروغ وائي بلکه بعضې خو د دروغو قَسَمونه هم خوري، دا ګناه او حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے.

کاش! چې مونږه په اخستو او خرڅولو او نورو معاملاتو کښې د شریعت پیروکار او د سُنَّت آئینه دار جوړ شو. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبة المَدینه** د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا **ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتونو

[1]... فتاوٰی رضویه، جلد:17، صفحه:128.

[2]... ابو داود، کتاب: البیوع، باب: الرجحان فی الوزن، صفحه:536، حدیث:3336.

[3]... اِحْیَاءُ الْعُلوم مترجم، جلد:2، صفحه:313 بتغیر قلیل.

زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي.

راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے برسيره كړے شي.[1]

راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

### ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3]

راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2]

راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵